




ايمل « مرِوند »
د نشر نيټه : ۱۷ فبروری ۲۰۱۳ ميلادی

# د ختيځ ادبي بهير د « ۳۰ » اونيزې ناستې راپور

ختيځ ادبي بهير د تل په شان خپله ۳۰ مه اونيزه غونډه د ۱۳۹۱ کال د سلواغي مياشتي په ۲۰ نيټه د جلال اباد ښار د ميدوتيک په انګړ کې ترسره کړه.

مشران ميلمانه يې محمد فاروق « ديدار» او غزيزالدين« يوسفزی » وو، د کوربه پر څوکي ورسره صف الله « سنګين» ناست و. او د دريځ چارې جمال « ثاقب » سمبالولې.

غونډه محمود « خزان» د قران پاک په څو مبارکو اياتونو پرانيستله. د ايمل « مرِوند » د نشتون له امله د تيرې ناستي ګزارش ونه لوستل شو.

د توکو د ارزوني په برخه کي هلال احمد عاجز د (( د ناهيلی )) په نوم خپله لنډه کيسه کرکتني ته وړاندې کړه، چي د خبرو پيل پرې ضياالدين همت مل وکړ، نوموړي که څه هم د عاجز عاجزانه هڅه وستايله، خو زياته يې کړه چي د هلال نه کيسه يو څه اوږده شوې همت مل په کيسه کي د شعر راوستل سم ونه بلل او زياته کړه، چي په کيسو کې شعرونه او سندرې راتلی شي خو عاجز چي په کوم ځای کي شعر راخيستی دی مناسب ځای د شعر لپاره نه دی او اضافي په کې ليکل شوی دی.

ډاکټر بشير احمد پرهر بيا ځينو تکراري جملو ته ګوته ونيوله چي له انده يې کيسه يې پيکه کړې ده، د پرهر په وينا په کيسه او ليکنه کې بايد تر ورستيي بريده هڅه وکړو چي د تکراري او سوليدلو کليمو څخه ځان وساتو.

د نوموړي په وينا تکراري کليمي او جملې د کيسي يا داستان خوند له منځه وړي.

نادر دانش هم د پرهر سره په يوه خوله و او ځينو تکراري جملو ته يې اشاره کوله چي په باور يې د کيسي رنګ يې تت کړی دی او لوستونکو ته ستړې کيدونکې تماميږي .

اوميد خيران بيا د کيسي په تخنيکي اړخونو وګړيدلو او ځينو املايي تيروتني يې يادې کړې هغه وويل

موږ باید په لیکلو کې لیک نښو او املایي تیروتنو ته ډېر پام وکړو او خپله لیکنه تل دوه درې ځله ولولولو تر څو په کې کومه تیروتنه ونه اوسي.

احمد جمال « جمال » وویل:

((میراث مور ته نه پاتې کیږي، بلکې جمال ته پاتې کیږي، نو د مور په مړینه باندې کمال ته میراث نه پاتې کیږي، بلکې د جمال په مړینه باندې کمال ته مثراث پاتې کیږي)).

بازمحمد عابد هم د میراث په برخه کې د جمال د خبرو ملا وتړله او همدارنګه یې وویل چې د ((خاورین)) لوبښي پرځای که کوم بل نوم راغلی وای او یا یې ورته "ګنډولی" کارولی وای نو له انده یې ښه به راغلی و.

نوموړي په کیسه د شعر راوړلو په اړه وویل ،چې کیسه د مور په اړه لیکل شوی ده نو شعر راوړل په کې پر ځای نه دي راغلي. د عابد په خبره که چېرته دا کیسه جانان ته لیکل شوې وه، نو بیا که شعر راغلی هم و څه ستونزه یې نه پیدا کوله.

پرهر وویل که چېرته د میراث خبره د مور نه زوی ته راواوړي نو یو ښه کیسه ترېنه جوړیدای شي.

ځینو نورو ملګرو هم د ډاکټر پرهر خبره تایید کړه. او ویل یې چې میراث تل زوی ته پاتې کیږي نه مورته ، نو باید کیسه کې کمال د میراث لپاره د خپل وراره د وژلو هڅه وکړي نه د هغه د مور وژلو .

ښاغلي عبدالله اغیز وویل، زموږ په ټولنه کې تر ډېره د پنځو کلونو په شاخوا کې هلکان د تلاق په مانا نه پوهیږي او په بازار کې پلستیک هم نه شي خر څولی.

هغه زیاته کړه، چې په کیسه کې کرکټر جمال دی خو لوبغاړې یې بیا د هغه مور راغلې ده، چې کیسه یې د خپل خالات نه ویستې ده.

خو ځینو ملګرو ورسره ونه منله او وې ویل چې کورنۍ ستونزو ډېری ماشومان اړ کړي دي چې په بازارونو کې توکي وپلوري او د ځان لپاره یوه مړۍ ډوډۍ پیدا کړي.

لیاقت خان غزت مل بیا یټنګار کولو چې موږ باید په کرکټنه کې یوازې منفي خبرې ونه کړو او ځینو ښو او مثبتو ټکو ته هم اشاره وکړو، هغه د کیسې نوم خوښ نه کړ او ټینګار یې وکړ، چې د دې نوم پر ځای دې ورته بل مناسب نوم ولټول شي.

غزالدین یوسفزي بیا وویل چې د کیسې په یوځای کې د محمدالله نوم راغلی دی، خو ښکاره شوی نه دی چې له جمال سره کومه او څه اړیکه لري.

بازعابد بیا د همت مل د هغې خبرې سره همغږی نه و، چې ګوندي کیسه اوږده ده هغه د استاد اسدالله غضنفر یوه کیسه د بیلګې په توګه یاده کړه چې کافي اوږده لیکل شوې خو ښه کیسه ده.

د کرکتني په پای کې خپله د کیسي لیکول هلال عاجز دریځ ته ووبلل شو نوموړي د ټولو ملګرو نه مننه وکړه، چې پر کیسه یې ورته نیک او رغنده نظرونه ورکړل وې ویل چې په راتلونکو لیکنو کې به د ملګرو د نظرونو او مشورو نه پوره پوره ګټه اخلي.

ترکرکتني ورسته یوه ازاده مشاعره وشوله چې د یادو شو کسانو سربېره په کې دغو ښاغلو هم خپل شعرونه وویل:

ذبیح الله صالح، بصیر احمد تلاش، بلال، سید هدایت الله شیدا، الفت پاڅون، ریاض الله شفق، ضیالدین زلمی، صیام الدین پسرلی، عبید الله اغیز، لیاقت خان غزتمل، شمس الرحمان حسیني، اکمل ظاهر، قدیرملنګ، رحیم الله همراز، نهضت شیرزاد، یوسف ظریفي، زیارمل سوکال، طارق تسل، غزت الله ځواب، حمیدالله کامران، غزیز خان، ارباب خان، خضرت یوسف یوسفزی، او صاحب الله عابد.

په پای کې فاروق دیدار دریځ ته وبلل شو نوموړي خوښي ښکاره کړه، چې د ختیځ ادبي بهیر په داسې یوه ښکلې غونډه کې ګډون لري.

وې ویل ډېر خوشاله دی چې د ختیځ ادبي بهیر او ورته نورې ادبي ناستې کیږي او ځوانان په خپلو کې سره خپل نظرونه او اندونه شریکوي.

هغه د ختیځ ادبي بهیر غونډې ډېرې زیاتې ګټورې وبللې او د نویو استعدادادونو په روزلو کې یې بهیر یو روزنیز مرکز یاد کړ.

په پای کې نادر دانش د بشري حقوقو کتاب او هجرت الله اختیار د حق په نوم مجله په برخوالو وویشله.

د راتلونکې اونۍ لپاره اغا محمد بینوا او لیاقت خان غزت مل ژمنه وکړه چې خپله لنډه کیسه به کرکتنې ته راوړي.

غونډه غرمه ناوخته پای ته ورسیده.

ریپورټر: ایمل « مړوند »

بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org